إِذَا دَخَلَ أَحَدُكُمُ الْمَسْجِدَ فَلْيَرْكَعْ رَكْعَتَيْنِ قَبْلَ أَنْ يَجْلِسَ». «كله چې ستاسو څخه يو څوک جومات ته ننوځي، نو مخکې لدې چې کيني دوه رکعته لمونځ دې وکړي

له ابو قتادة رضي الله عنه څخه روايت دی چې رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايلي: «إِذَا دَخَلَ أَحَدُكُمُ الْمَسْجِدَ فَلْيَرْكَعْ رَكْعَتَيْنِ قَبْلَ أَنْ يَجْلِسَ». «كله چې ستاسو څخه يو څوک جومات ته ننوځي، نو مخکې لدې چې کيني دوه رکعته لمونځ دې وکړي».

[صحيح دی] [متفق عليه دی]

رسول الله صلى الله عليه وسلم ټينګار کوي چې څوک يو جومات ته لاړ شي او په هر وخت کې د هر غرض لپاره ورننوځي نو بايد چې له کيناستو څخه مخکې دوه رکعته لمونځ وکړي، چې دې دوه رکعتونو ته تحية المسجد وايي.

http://www.sunnah.global/hadeeth/ps/show/65091